# پرخه په ترخه

د شعر مجموعه

سعدالدین شپون

۱۳۶۹

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پرخه په ترخه

«د شعر مجموعه»

سعدالدّین شپون

۱۳۶۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وفا مشر:

پروفیسر عبدالرسول امین

دکتاب نوم : پرخه په ترخه

شاعر : سعدالدین شپون

خپرونکی: د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه (وفا)

د چاپ کال: ۱۳۶۹ ش (عقرب) ۱۹۹۰ع (نوامبر)

د چاپ ځای:

خطاط : نورالدین هنریار

تیراژ : زر ټوکه

ګڼه : ۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اهداء

ډاکټر محب الله نکته ته چې مرېنې
یې زه او "خالص" نیمه خواکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ - | سریزه | ۵ |
| ۲ - | لوبه | ۹ |
| ۳ - | زه د شپې له تاریکۍ سره... | ۱۰ |
| ٤ - | د افغانانو غبرګ روسانو ته | ۱۳ |
| ۵ - | د هجرت لومړۍ هفته | ۱٦ |
| ٦ - | د زماني پېر | ۲۰ |
| ۷ - | جنګ او ننګ | ۲۲ |
| ۸ - | د رقدمه هیروځ | ۲٤ |
| ۹ - | د پېرې چیلنج | ۲۸ |
| ۱۰ - | د هجرت شپږم کال | ۳۰ |
| ۱۱ - | ماشوم توب | ۳۲ |
| ۱۲ - | شیطان | ۳۵ |
| ۱۳ - | د وطن له ویجو سره خواله | ۳۸ |
| ۱٤ - | د روسي عسکرو د تللو ورځ | ٤۳ |
| ۱۵ - | د مجاهد بې وفا یار | ٤۵ |
| ۱٦ - | د کوکچې د سیند پر غاړه | ٤۸ |
| ۱۷ - | ګاونډي ته | ۵۱ |
| ۱۸ - | د خوشحال په لاره | ۵٤ |
| ۱۹ - | د پنجرې پرانګ | ۵۸ |
| ۲۰ - | سیند ته | ٦۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| شماره | عنوان | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۲۱- | د ناهید د شهادت په کالیزه | ٦۲ |
| ۲۲- | د احمد شاه بابا په یاد | ٦٤ |
| ۲۳- | د آزادۍ تلوسه | ٦٦ |
| ۲٤- | خپلې ژبې ته | ٦۸ |
| ۲۵- | ویر | ۷۰ |
| ۲٦- | د ببرې د ستنېدو . . | ۷۳ |
| ۲۷- | وښیه | ۷۵ |
| ۲۸- | خپلواکي | ۷۷ |
| ۲۹- | زما محبوبا | ۷۹ |
| ۳۰- | د بدخشان مهاجر | ۸۰ |
| ۳۱- | د شپې تنهايي | ۸۲ |
| ۳۲- | د مجروح یاد | ۸٤ |
| ۳۳- | همزولې شاعرې ته | ۸۵ |
| ۳٤- | له قلم سره خواله | ۸۸ |
| ۳۵- | پردیتوب | ۹۱ |
| ۳٦- | عبدالحق همایون مجاهد ته | ۹۳ |
| ۳۷- | جفا | ۹۵ |
| ۳۸- | د مور یاد | ۹۷ |
| ۳۹- | د مهاجر خوب | ۱۰۱ |
| ٤۰- | ترانه | ۱۰٤ |
| ٤۱- | له خپل ځان سره زار او نیاز | ۱۰٦ |


پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# سریزه

قسمت راته په تهنده یل څه لیکلی وو، که نه ما د لیکوالۍ په اول سر کې د ځانه سره پخه کړې وه چې په پښتو ادب کې به دیوې داسې پانګې داروله تکل کوم چې په هغې کې د ژبې او ژوند ترمینځ اعتدال موجود وي. مانا دا چې هر څه یو حد ولري چې د ریښتونی تجربې سره سمې وخوري.

ما وې د پښتون شاعر تل روانې اوښکې به وچې کړمه او ورته وبه وایمه چې بار دیگر خپل درد په کراره کاله او د یتیمانو کانې مه کوه چې په ابله شي پرنګ په ژړا وي. ماوې همزولو لیکوالو ته به ښوالتې کوم چې زیاتی دې د غره د څوکو، د کودر، د ښاپیرۍ وزمه پې مختوب نه اید، یال نه جوړوي، بلکه مخامخ او بې رنګینو عینکو دې ژوند ته سترګې وغړوي. ماوې... ماوې....

(c) ketabton.com: The Digital Library

خود سردار داوُد دکودتا او وروسته بیا دکمونستانو له تاراک سره زما او د وطني مطبوعاتیانو رابطه سسته شوه او زما ارمان نیمګړی پاتې شو. یوه لسیزه پس دغه دی خپلې هاغه نیمګړې سندرې ته دوام ورکوم، مګر دغو لسو کلونو جنو ګالوکه زموږ د فرهنګ او کلتور کور وسوخود یوالونه یې پاخه کړل او زما —— پیښس بیني یې رښتیا کړه. که زموږ فرهنګیالیو شپږو ند ته نږغ کتلی شوای او کلیشه یې نه تړي جوړولی هیڅکله به یې د شعر ملــوني د شعار په لوری نه وی خوشی کړي او د کښته طبقې، لوړې طبقې، خوار، بزګر، ارتجاع او انقلاب په اصطلاحاتو به نه بسیا کیدای.
د نواب صاحب مېښې به زموږ دغوی کودتا نه جوړولی او خوار کوچر به زموږ د ادب ځلاند اتل نه وای ګرځیدلی. له بده مرغه د مقاومت د تیرو لسو کالو ادبیاتو زیاته برخه لاهم په شعار ولاړه ده. فقط د کوتو په شمار کیسې او شعرونه دی چې د افغاني مقاومت رښتونې عکاسي کوي، اوس چې د هر کلي او جبهې د - شهیدانو شمیر، دغرونو او دړاګونو لارې کودرې، د مجاهدینو د ډلو خپل مینځی اړیکې، د مهاجرو کمپونه، شمیر او اجتماعي اړانې تولې په احصایېی، فلمونو او اسنادوکې موجودې دي، بیا هم لیکوال په تصوري او خیالي سمبولونو غږیږي او یو څو محدودې طرحې لري. د دلاورخان دواده دریمه ورځ وه، جنګ ته لاړ، شهید شو او کونډې یې په یاد ژړل. په دري او پښتو دواړوکې هدا کلیشه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنعنه روانه ده ، سرې ته نا امیندی ورېږي چې په لسهاو ناولونه، ډرامې سفرنامې خارجیانو په همدغو لسو کالو کې د افغانانو د ژوند په باب لیکلي او له ځینو نه یې فلمونه هم ډک شوي چې په لکهاو کسان یې لولي او ګوري یې ، مګر حتی یو داسې ناول ، داسې ډرامه ، داسې شعري مجموعه افغانانو نه دی لیکلي چې لوړه ادبي ځلا دې ولري . هماغه سیاسي شعارونه دي ، هماغه خیالي محدودې طرحې دي ، هماغه زوړ مطرب خانه خراب دی چې د ساز په ځای کانګې کوي .

زما د نظمونو مجموعه هم زما د نورو یاد ښتونو سره په کابل کې باد یووړه ، یوڅه مې چې په یاد وو ، هغه مې دلته را اخستي او پاتې مې څه په پېښور کښې او نور په ډنمارک او امریکې کې ولیکل .

زما هر نظم زما په خپلې تجربې بنا دي او حتی " خوب ویم عالمه " هم زما رینښتیاني خوب دی چې اوس یې هم لړ ترلړه په میاشت کې یو ځل ویم . زما هر نظم په حقیقت کې یو تصویر دی او د ومره زیات احساسات او زما خپلې انګېرنې په کې نشته . مګر زما انګېرنې د موضوع په انتخاب کې دي . هره هغه صحنه چې را ته مهمه ښکاره شوې ، چې یو لوی معنوي ارزښت مې په کې نغښتی لیدلی ، هماغه مې تصویر کړې ده ، په دې امید چې پرېږده چې بخیله د نظم څېره زما نړۍ لید ، زما غم او ښادی او زما د نیا ترسیم کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

امید دی چې زلمي شاعران هم همدا عنعنه وروزي او همدا سبک په پښتو ادب کې رواج شي.

**سعدالدین شپون**

۱۹۹۰ - اپریل

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوبه

ټوکه یې ونه ګڼې د ژوند او مرګي لوبه ده
بله لاره نه لرو یا مرګ دی یا مو سوبه ده

یا به شین خال د سره ښامار له داړو بچ کړمه
یا مې په سرو وینو دا نړۍ ټوله خړوبه ده

ویرجینیا ۱۹۸۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زه د شپې له تيارې سره آشنا يم

زه د شپې له تيارې سره آشنا يم
زه د تورې تروږمۍ سکنې ورور يم
ما د سولې په سندرو لولو نه کړئ
زه د جنګ ترانې بولمه سور اور يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د خپل وطن شینکی اسمان لیدلی
چې د زانو په کې جوړوو اسېلونه
اوس د برګو الوتکو له منګولو
ترې توییږي په خروار خروار بمونه

ما لیدلي دي هتی دوه شپېته ټانکونه
په کړچار چې یې ټول غر او کمر ښوري
چې په کلي راشیوه شي میندې رېږدي
ما شومان زبون وهلي ورته ګوري

ما لیدلي دي الوتکي جوماتونه
ما ښکل کړي د قرآن سپېڅلي پاڼې
ما ټول کړي دي د ورور پرې اندامونه
ما په میاشتو ګوزاره کړه په مماڼې

زه د هومستو بانډه وژوندی شاهد یم
اټڼونو بې چې مځکې لړزولې
اوس د تشو کنډوالو کچکول په غاړه
صورت سوی، جومات مات، ګروي شلېدلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې حیا لکه غوټۍ پلو کې نغښتې
مالیدلې دي هغه درنې بیبیانې
اوس یې ګورم دیوې خیمې په تمه
لالهاندې، سرګردانې، لیونیانې

نو،

زه د شپې له تاریکۍ سره اشنا یم
زه د تورې تروږمۍ سکنی ورور یم
ما د سولې په سندرو للو نه کړئ
زه د جنګ ترانې بولمه سور اور یم

۱۹۸۲ ع
ډنمارک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانانو غبرګ روسانو ته

راشه چې داغرونه دي د هر قدم او ښار دي
ټاټه د وطن د اسمان ستوري انتظار دي
موږ به هم په هسکه غرې ستا راتګ ته ناست یو
موږ نه پوهیږو چې سرونه دي په کار دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشه چې موږ هم هغه شپې ته ور کتلې دي
تا په دې وطن کې ډېرې ونې بهولې دي
دلته به د ټول جهان میرانه خپل سیال وګوري
دلته موږ هغو ونو او لوڅو ونه از میلې دي

ته د ما شینونو او پولادو په پښو تلل کوې
ستا میړانه داده چې د زهرو ورکول کوې
تاسو کې خوداسې کوم باتور هر کوره نه وینم
(چې)
کانې دې په لاس کې وي په ټانک باندې یرغل کوي

ته که زما سرغواړې زما هم پرې رضا ده
دومره به دې یوه کړم چې مې سر کې څه سودا ده
داچې بربر وایم دا په دې چې مې سرلوړ دی
ټوله روسیه که تېرې داو کړې هم وړیا ده

دا سرغو څېدای شي خو بنده ته ټیټېدای نه شي
داسر دهغه دی چې په توپو تم کېدای نه شي
زموږ د کولیوله بلې نه ستر ګې نه سوځي
زموږ عمرونه لنډ دي یوه ورځ او بندېدای نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشه چې لیمه مې آخري ننداره وویني
سترګې مې یو ځلې ستا د وینو داره وویني
ستا د غیبې، مسافرې سلګۍ چې واورمه
ستا د نامرادۍ، نامرادۍ کوکاره وویني

دا ښکلی وطن د د ښمنانو هسې پېژني
تورو مې سر پېژني، ګولۍ مې تټر پېژني
دې ښکلو دروګو مې پر دې ته ژوند حرام دی
بوټي مې سپر پېژني او کاڼي سنګر پېژني

نو،
راشه په تلوار چې د خلاصون لارې تړلې دي
دې تږي وطن تل د پردو وینې څښلې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د هجرت لومړۍ هفته

د تاکال په ارباب روډ کې یوه کمره ده
په کې اوسمه یو زه پنځه بچیان

یو شلېدلی کټکی په کوټ کې پروت دی
زه پرې ناست یمه په لاس کې مې دیوان

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دیوال نري او به کوز رابهیږي
اوري شړکنده دبام په سر باران

د ښادر لاندې مې لوړ غېږ کې ویده ده
چې ساړه شي نښلوي راپورې ځان

خدای خبر دی د هغې مرغۍ له حاله
چې صیاد یې دړې وړې کړله ځاله

---

زه به هم کله منګولې راپیدا کړم
زه به هم له خونکارانو غچ اخلم

په پردو به هم د ناز پالنګ حرام کړم
خیر که اوس په مېږتون باندې څملم

اوس مې وینې چې په خاورو کېل کېږم
داسې هم وه چې په سرو به دې تللم

مادمار سره یاري کړه ځکه خوار شوم
که نه خدای په خپله ځاله کې ساتلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

« په بچو مې يو ښامار ده پر زوروړ دی
هيڅ علاج يې نه راځي صاحب کمـــاله »

---

زېړې داړې يې دوزخ ته دروازې دي
له سروستوګو يې بهېږي لعنتـــونه

له دنيا چاپېره کوارې وارې پروت دی
اچوي په ښنيادم باندې روبـــونه

دا ښامار له آمو پورې غــاړې اوسي
نه پاړو پرې اثر کاندی نه دمـــونه

په ناولې خوله دغم سندرې وايي
په بېوزې يې لګی وهي اورونه

په هر ځای کې چې دده څېره ښکاره شي
پرې بهېږي د سرو وينو لوی رودونه

نه دخدای په مخکه څوک ترې بچ کېدای شي
نه مرغه ترې الوتی شي پاس هوا له

(c) ketabton.com: The Digital Library

په د لویو غرو کوربته کیسه و اوري
د بې کوره مساپرو شنو توتیانو

د کابل خوږه میوه مې پېرزو نه ده
په ناولو نابللو شورویانو

د سالنګ سړې اوبه مې نه لوېږي
د ماسکو په کرغېړنو تپوسانو

د مارغه به په مارغانو جرګه کېږي
زه راغلی یم جرګې ته د مارغانو

ټول راځئ چې په وړو کاڼو یې ولو[1]
دا ښامار نه ایسارېږي په شوکانو

د بې وزلو تکیو تکیه خدای ته
چې یې جنګ دی له مردارو کچیرانو

یا به داخوني ښامار په کاڼو پټ کړو   یا به ورانه کړو د درستې نړۍ حاله

پېښور ۱۹۸۰/۱/۱

---

(۱) ترمیهم بحجارة من سجیل - مبارک آیت ته اشاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زمانې پير

يو وخت د سولې وي          بل وخت د جنګ شي
يو وخت د مستۍ خندا          بل وخت د ننګ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله د کلو محشر سخ د بورا وي
کله د شمعو شغلې وارد پتنګ شي

چې د رنه درومي اشنا د شپېلۍ نول وي
چې د تا خواله درځي د رباب ترنګ شي

چې زړه ځوربږي سترګې شي دانارو دانې
چې زړه نشه وي سترګې پيالې د بنګ شي

يوې زخمي مرغۍ ته
کله زړه وځوربږي
کله د مرګ چپاو ته
سخت لکه سنګ شي

۱۹۸۱

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنګ او ننګ

هغه باغچه دې تالا والا شي
چې پرې اتڼ د سور بورا نه وي
هغه ژوندون دې د مرګ مېلمه شي
چې واک د بل وي او د تا نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وطن ښکلو ښکلو زلميانو
نن مو درشل ته دښمن راغلی
زموږ د خوږيدو پاکې لمن ته
د شهوت لاس وړي دغه ناولی

يو پلو سوله ده ، غلامي ده
بل پلو جنګ دی ، ورسره ننګ دی
پام کړه د سولې چې نوم وانه خلې
په موږ راغلی آيت د جنګ دی

۱۹۸۲
ډنمارک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درقد مه هېروئ!

دا نظم په ۱۹۶۳ع کې لیکل شوی و. هغه وخت کمونیستان په کابل کې پر مطبوعاتو مسلط وو. کله چې دا نظم په «سهوه» کې په «ژوندون» کې خپور شو، د سلیمان لایق تبصره دا وه:

"له دغه نظم نه داسې انګېرل کېږي چې ګوندې شوروي اتحاد به د نورو هېوادو د خاورې لاندې کولو ته اېښې وي.

حال دا چې د امریکا پر خلاف، شوروي اتحاد تر اوسه د چا یوه لوېشت خاوره هم نه ده اشغال کړې"

درقد د پنج «آمو» په سیند کې پروت یو ټاپو دی او دا آزاد شعر هاغلته د سنګلو د ځنګله په مینځ کې لیکل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په قبر به لاله زرغون، وي
خوزما داخبره مه هیروئ
چې هلته لرې د سیندونو غېږ کې
یو تور ځنګل دی داغزنو ونو
هغه ځنګل دافغانانو مال دی
چې یې اوبه درنه رالاندې نه کړي

د « پنج »او بوکې لاهوشوی ځنګل
ما یې خونکارې ژامې ولیدلې
چې پرانستلې دي درقد له پاره
دا پنځه سرې نسا مارزه پېژنم

لامازدیګر وي چې په خلکو شپه شي
شپانه په بیره رمې کورته بیا یې
هرڅوک له کنو ځنګلو لار چپوي
دا شین ځنګل په ځناورو سپارې

د تورې شپې کېږدۍ چې وغوړېږي
تورې بلاوې په درقد خورې شي
نهنګان ورو ورو په ساحل ورخېژي
زمرې راوځي د ځنګله له تیارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سور لنډيو آوازونه راځي
خوسپي له ويرې خواب نه ورکوي
توره تياره کې د هربوټي له شا
دځناورسترګې رڼې ځليږي

له هرې ونې نه شېبه په شېبه
دکونګ وېرجنه سانده غوږ ته راشي
له هرې خوا نه خونړي سيندونه
لکه بارشوي اوښان وبرېږي

ما هندوکش په سرمزلونه کړيا
شپې مې په ښخو کې خوبونه کړيا
خو د درقد فضا څه بل شانې ده
زه يې په ځان باندې شکمن غوندې کړم

لکه اشنا چې زه هېر کړی يمه
يو له نظره غورځېدلی ټاپو
د حوادثو په منګولو کې ګير
له وطنوالو نه په څنګ پاتې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په قبر به غاټول شین وي
خوزما دا خبره مه هیروئ
چې هلته لیرې د سیند ونو غیږ کې
یو تورځنګل دی دا غزنو ونو
هغه ځنګل د افغانانو مال دی
زما د قبر په غاټول موقسم
چې یې او به د رنه رالاندې نه کړي

۱۹۶۳
د درقد تاپو - تخار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پېرۍ چلنج

بیا وشول په مونږ باندې غږونه د پېرۍ
بیا زلمو را واخیستل ټوپک او ګرځنې

بیا نجوني د لوړو غرونو ښوکې ښاري
بیا کوز راوریږي په ملن ملن بڼ لې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا ښامار راغلی له بدرۍ نه چارچاپېر دی
بیا ورته په غشي ملوک خان راکاږي ژۍ

بیا دښمن راغلی په دې مسته خاوره
بیا په شازلمو شولې حلالې د مورپې

اوري له آسمانه د لعنت د غضب اور
ځکه راخوټېږي لکه سوزنده تبې

نن به د تش لاسو او د ټانک مقابله وي
ګورو به چې دا خاوره زمونږ ده که پردۍ

۱۹۸۱
پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د هجرت شپږم کال

ستړګو ته د خیال چې د وطن ښکلې څېره راشي
وترېټمه سل ځلې که اوښکې په ستنه راشي

دا ماشوم زړګی که سل د شګو ماڼۍ جوړې کړي
ټولې ورژېږي چې د غم يوه چپه راشــــــي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپې کاله په خوب کې او په ویښه په وطن کې یم
ورځ بیا ګذران وشي، بیچاره شمه چې شپه راشي

شپه توره بلا ده، شپه خپسه توره دوږه ده
غم راشي، کړاو راشي، سودا راشي، غوسه راشي

شپه دبې دردیو، نامرادیو، اسویلو مور ده
کټ راته تنور شي له بړستنې سره لمبه راشي

١٩٨٥
ویرجینیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماشوم توب

زه هم یو وختې ماشوم وم — ببر سر کنډلاس غابښونه
سره غومبوری چاودې تلې — مات نوکان خیرن لاسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په باغو به ګرځېدمه — هره څانګه زما نهال و
چې آلو به سره بخن شول — په هر باغ کې زما مال و

ما په توري تروږمۍ کې — توراینځور شو پېژندلی
ما په پټو سترګو ځان خپل — له ویالو شو تېرولی

یو وړوکی کټ مې ځای و — یوه پښه یې وه د خبنستو
لنګه نه، بازو یې کوږ و — نه پرې ځای و د بالښتو

شپې به پرې وتم په ځای کې — ټول وجود اغزو څیرلی
مخ په څانګه شوک شوکاري — سر په تیږه لګېدلی

پرېوتل وېده کېدل وو — نه به ځان نه به جهان و
نه به درد د ستوماني و — نه به ځمکه نه آسمان و

اوس سپېڅلې مېرمنه ستا یم — ښه ړنا ښایسته خونه
خوا کې نرم پاک بستر دی — پرې یې د پرو بالښتونه

اوس چې دغه کړنې لیکم — نیمه شپه ده لا تېرېږي
ګاونډي یې ټوله وېده دي — زما سترګې نه پټېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای شلیدلی کټ ګکیه      نور به څه په کې ځایږي
ګاونډي ټوله ویده دي      او زما سترګې نه پټیږي

ای شلیدلی کټ ګکیه
ای شلیدلی کټ ګکیه

۱۹۷۰
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شیطان

ثوکۍ یې دغه ثوکۍ یې چې مې هره شپه څارې
پرېږده نورمې پرېږده ، ماغریب مه ځوروه
سیوری خومې نه یې ، زه په دغه بڼه نه یم
مه راپسې ګرځه نوره خپله لیارکوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپه ستړې ستومانه دکټکې دپاسه پرېوځم
خوب مې په شېبو شېبو له ځانه هېروي
سبا چې خوب ویده شم ستا ویږولې څېره وینم
بس دغه لیدن دی په ما شپه سبا کوي

چاته ویلی نه شم چې یو سیوری راپسې دی
ته مې هم ټوکې هم مې ګناه ته لمسوي
داما شوم زړګی مې له ګوګل نه راوباسي
تش جام ورته نیسي او یو رنګ یې کړنګوي

زه هره مسره لکه ابداره توره کاږم
ته پرې دمظلومو سینه کې ځېرې کوې
زه ورته بنایسته پښتنې ګنډم په مرۍ ډک کړم
ته یې دلذت له پاره بېرته ورشلوې

شپه چې سبا پخه شي، تاریکي شي، چوپیایي شي
هار د آرزوګانو په قلم باندې پېیم
زړه وایي شپنه هغه غمونه دي او س نه شته
لیرې چېرته غږ شي چې شپونکیه بام کړه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس هم کله وایم چې وړوکی وای ژړنکی وای

لاس په ږیره راکاږم اوس ورپسې دوم

ځکه شم دیواله ته په هینداره کې ځان ګورم

ځان نه وینم تا وینم هینداره ما توم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوطن له وريځو سره خواله

یه وریځو وریځو دوطن وریځو
لړ څه ستنې شئ زه هم درځېږم
ما ته ځای راکړئ په پسته غېږ کې
یو سور خاټول یم سبا شپه ربېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

یه وریځو وریځو لږ په کرار ځئ
زه درته ګورم زړه مې ویلیږي
کوز هدیره ده زه په کې ناست یم
د سرو بڼو وو ساندې غږیږي

یه وریځې وریځې دلته دوزخ دی
راکوزه نه شې تا به ایرې کړي
ژوندي وګړي چې سر راجګ کړي
دویم قدم یې په هدیرې کړي

یه وریځې وریځې د وطن وریځې
د تاله مستې بریښنا نه ځار شم
یوه لمبه به راپورې نه کړې؟
چې یا ایره شم یا سور انګار شم

یه وریځې وریځې دا خلک ګوره
دا په نس وږي دا په زړه سوي
دا د رټلو دا د ویشتلو
نګیروي خواوري که نورځه نه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما دراوچت کړه له دغې ځکې
د لوړو غرونو څوکو د پاسه
زه یو خاټول یم په ملامات شوی
د یو بې باکه مالیار له لاسه

تا وروړلې د ژوند اوبه وې
مونږه داو ښکو سېلاو ترې جوړ کړ
تا زرغونه کړل د ښتې لا ښونه
یو څو خونکارو ارمان پرې موړ کړ

زه به هم کله وزر پیدا کړم
ماتې به زه هم دا هسکرې کړم
بیا به نو تا ته پورته درخېژم
تا به دریاب کړم ځان به بېړۍ کړم

بیا به نو دواړه سره روان یو
د دې نیمګړې دنیا د پاسه
سره به وکړو سره به وایو
چې څه زمونږه کیږي له لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ به په ګلونو پرخې خورې کړو
خو په اغزيو به ژوند حرام وي
ګلان به پايي اغزي به ريږي
د دوی برچې به د دوی په ځان وي

موږ به د دښتې خاټول بيا سور کړو
خو په زړګی کې به تور داغ نه وي
موږ به باغونه بيا زرغونه کړو
خو په باغو کې به تور کاغ نه وي

بيا راکوزيږم د ځمکې سر ته
داخپل ټاټوبی ډير راته ګران دی
څوک چې له ځمکې نه تيښته وکړي
هغه وګړی ډير سرګردان دی

ځمکه د ميني پاکه زانګو ده
ژوندون په ځمکه يولوی نعمت دی
ځمکه کې ژوند دی ، ځمکه کې خلک
ژوندون تر هر بل نعمت اوچت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان شهکار دی خو چې ژوندي وي
په اسمانو کې انسانان نه شته
انسانان خپلو ځمکو کې پايي
د وطن خوند ته هيڅ پايان نه شته

۱۹۷۵
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دروسي عسکرو دوتلو ورځ

اى دنړۍ خلکو نن تاریخ بیا لیکل کیږي
دوه سترګي څلور کړئ، داورځ بیا نه لیدل کیږي
عت
دې شاهکار ته حیرشئ دا په هرساکې نشته
څو قرنونه تیر شي څو دا نور بیا وڅلیږي
نن د آزادۍ مشال یاغي یاغي شغلې کړي
نن په خرڅا دري افغان تول جهان نازیږي
نن میرویس وباسي دلبنن ځني کوکا ري

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر زور ته قالب شته هر فرعون ته یو موسی
حق د زور قالب دی د جادو ایمان دوا
ځنکه چې لوی درمن ته ورو کې سپېرغی بس ده
هسې سره بنا مار ته خره کی افغان پیدا
مه ستا په دستورو قدرتونو توره ماته
نه سوځې د حق سترګې له تا لندې بریښنا
حق په دنګو غرونو خېژولې خپلې لارې

ته په موږ نالوستو، شړې پوښو غولېدلی وې
ته زموږ خوارۍ او ساده ګۍ ډېر تېر ایستلی وې
تا زموږ په لاس کې یوم لیده، توږ دې نه لیده
سپور وې د غرور په ټانک کې نو له عقله پلی وې
ستا دا ایمان دا او خپلو اکو سره سر نه و
ته په سوله ییزو مظلومانو بنه غښتلی وې
چا نه وې څېرلې ستا ظالم ژامې خونکارې

ویرجینیا
۱۹۸۹ ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دمجاهد بې وفا يار

ستا د سترګو شو بلې راغلي
دزړه ګلي ورانوي
کوې ورو ځي نرۍ ملا دي
پښتانه روسانوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

که هرڅو در نه پناه شم
دخپل زړه ستړو اخفا کړم
ستا ظالمې غږ چې راشي
سمه غر روښانوي

یو ورک نومی کلیوال وم
یو تش لاسی مجاهد وم
اوس مې نوم په درست جهان کې
عاشقان کړي دانوي

زما د زړه په توره بوره
ستا برګې کړي ګوزارونه
که همت راته ستمګر شي
د زړه کار اسانوي

په رګ رګ کې مې کړلي
تا ظالمې پټ ماینونه
ربه داسې سترګې راکړې
چې پټ ماین عیانوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د حسن باچايي مې
ټول وجود کنډوکپر کړ
زړه مې هسې سلطان غواړي
چې يې بيا ودانوي

ویرجینیا
۱۹۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکوکچې دسیند په غاړه

نسیم د سیند په غاړه جوړې کړې نازکې چپې
لکه اشنا چې کله واغوندي نیل رنګه جامې
بیا یې له ملا نه ترلمنې پورې کوټ کوټ کړې
ترزنګانه یې راخوره کړې بیا یې ونغاړې
زه ورته جګ په ګاره ناست یم او موجونه ګورم
او تا ته وایم داسرې دامیدونو ربه !
زه خبر نه ومه چې ما ته دې جنت راکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زګونه خوله کې زړه کې شور هره ذره انقلاب
په رنګ رنګینې په خوند خوږې په روح زما هینداره
نه په سرپل، نه په پښو بند نه یو لوېشت نیمګړې
زه په دې څغاسته او ټوپوکې داستانونه ګورم
او تا ته وایم داسرو دامیدونو رببه
زه خبر نه ومه چې ما ته دې جنت راکړی

یوه آرزووه چې به تل راسره مله غوندې وه
تته، مجهوله، چې احساسېږي شوه، بیان به نه شوه
او س چې کوچنۍ هغه زما د زړه پردې راسپړي
کله ششنیزي کله ټول ځان په سنګرو وهي
زه یې داوښکو د پردې شاته اکتونه ګورم
او تا ته وایم داسرو دامیدونو ربه
زه خبر نه ومه چې ما ته دې جنت راکړی

د بتوسیل وربانديٍ ټیټ ټیټ پروازونه کوي
لکه چې جنت ځان برابر کړي دناستي له پاره
خوټکني شي بیرته جګې شي شینکي آسمان ته
داسې شرنګیږي لکه ناوې چې پاولې شرنګوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یې د لمر لاندې رنګین رنګین وزرونه ګورم
او تا ته وایم داسې دامیدونو ربه
زه خبر نه وم چې ما ته دې جنت راکړی

چرته دزړه له ګوم یو ګوټ نه مې لمسون راځي
چې: هه، شپونکیه! له دې کارې ځان لاهو کړه سېند ته
بیا چې لاهو شې لامبو وهه کرار پرېوځه
یوه قطره شه غاړه ورکړه له همزولو سره
زه وایم زړه ته صبر وکړه زه خوبونه ګورم
او تا ته وایم داسې دامیدونو ربه!
زه خبر نه وم چې ما ته دې جنت راکړی

د بدخشان د سرو لعلونو دروګه هر ځای خپره
خو چا قلم قدرې کوکچې باندې ونه چلاوه
د کوکچې یو څاڅکی او به په لالو ورنه کړم
لالونه کاڼي دې پرا ته، کوکچه په مخ بهیږي
زه یې د هر څاڅکي په منځ کې جهانونه ګورم
او تا ته وایم داسې دامیدونو ربه!
زه خبر نه وم چې ما ته دې جنت راکړی

۱۳۵۲ فیض آباد - بدخشان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګاونډې ته

مه وهه دا خواره ښځه مه وهه
بې له تا نه بله اسره نه لري
تا ته یې له نورو نه پناه درووړه
بې د تا له غیرې وایه څه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا له اوښکو ډکې سترګې وچې کړه
بس دی چې پلرو دې ژړولې دی
نور نو دا ویرجنه صحنه ونغاړه
د هر عمر تاریخ او خدائ وهلې دی

خلک په کړاو کړاو سپوږمۍ ته ځي
ته د کور سپوږمۍ په تندر ونیسې
نور یې لاس ترغاړې مخ په هسکه وړي
ته یې د کوڅو له سرو ونیسې

ښځه چې په کور کې ژړنې وینم
دا لویه دنیا را باندې تنګه شي
دا د قضا عصر او دا زوړ فکر
کاشکې چې په ټولو باندې ړنګه شي

چا ویل چې حق د نورورو دی
دا به د پښتون له خولې وتلې وي
دوی کې چې کمزوري وي نو دې مري
چا سره چې زور وي نو ښاغلي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د ځنګلي بنیادمانـــــو دود
موږ ه پښـتنو پوره ســاتــلی دی
دغه به نو نوم د پښـتونوالیـ وي
ځکه مو شهرت هره خوا تــللی دی

دا شکلی موجود چې تا ته ګورکوي
دا ستا اندیوال دی، ستا مرئي نه دی
تل یې خولګکی په ژړا ورانه وي
دا موجود خو ستا دلوبو شی نه دی

ځکه د پوالو نوکې دي بنده کړه
بیا دې سپین کفن ور باندې خپور کړه
ژړنده ژوندی دې هدیرې ته کړه
بیا دې نوم د دې هدیرې ګورکړه

ته که په ایوب باندې میوند کښتې
پام کړه چې ملاله په سنګر کې وې
نورنور سنګرونه به لا وکښتې
دا دستوري نقش که دې سپرکې وې

ګذرګاه - کابل ۱۹۶۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دخوشحال په لار

وروښوروند به په دنیا نه وي مدام
ټول به درومون ګهیځ سبا ماښام

مرګی حق دی رغیدن مو ورنه نه شته
یا په تخت، یا په تخته او یا په بام

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا برېښتن لاندې پراته زنې تـرلي
یا شهید په کربلا کې قتل عام

دچا نوم په خاینانو کې یا دېږي
دملت او، دنبېراشې د د شـنام

دچا قبر په رنګينو جنډو جګ وي
په زیارت پسې يې ګلي تړي لام

مرګي حق دی، دریغه دا چې هسې مړ وای
چې وطن ټول نازېدای د ده په نام

چې دقام د پاره خپل تن تر غلبېل کړي
د شپانه ورته سر ټيټ په احترام

دسهار نسيمه لوړو غرو ته خېژه
د وطن په ښکیالومې کړه سلام

وایه ستا سوله مېړاني نه لوګې شم
چې په وینو موخوندې کړ ننګ د قام

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننګ غیرت نن په افغان باندې تمام دی
ما ته مه ستايه ميړانه د ويتنــــــام

موږ په روس باندې نن هسې ناتارجوړکړه
چې ماسکو کې مو په دوی کړ خوب حــرام

د سهار نسيمه ښښــنده الـــوزه
ښکلوه د شهيـدانو نسکور جـام

د غازيانو ببر سرو ږيرې ښکل کړه
ورتسليم کړه ديو خوار شپونکی پيغــام

داچې نن ټوله دنيا په تا سو نـــازکا
په هر ځای تا سو ياد يږی صبح و شام

د وطن واره زړه په تاسو ويـــــــاړي
ټول افغان له کند هاره تر باګـــرام

نن زموږ غرونه رغونه شاړ نه دي
د شهيد په وينو ټوله دي ګلفـام

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا چې موږ سره دغوږې دې وهلې
عاقبت به هم رسواشي هم سرسام

خاوره نه ده دا سره زر دي چې تېرنه وځي
دا وطن دی دخالق د پېرلوی انعام

په دې غرونو چې ورځي لاس په نامه شي
په دې شاړو پې اودسه مه اخلئ گام

دا پښتې ببلې خمتاپوش ټول اتلان دي
په شلبدلی خت يې مه غولیږئ پام !

که يې نر دی که يې ښځه بچا هد دی
ټول پاخه دي، دلته هيڅ مه غواړه خام

زوړ خوشحال دې اوس زموږ ننداره کا
چې دروس سر به کړوچت مال يې لیلام

«څو وانخلي له غليمه انتقام
مرد نه خوب کا، نه خواړه کا، نه آرام»

۱۹۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پنجرې پرانګ

برګې سترګې برګې لیکې په پنجره کې یم راګیر
د پنجرې میلې ولاړې، برګې برګې ګرچاپېر

یو وړوکې چاپېریال کې، د پرګار په شانې چورلم
لیونې خوبونه وینم، نه یې خیال شته نه تعبیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېگاه شپه مې ځان په خوب کې په یو لوی ځنگله کې ولید
چې راویښ شومه پنجره وه، د سیل بینو وبهیر

هر بازو مې د زورکان دی، هره پله مې انرژي ده
په وړه پنجره کې گیر یم، څه خطا کوم مې تقصیر

۱۹۷۸

کابل ـ څرخي پله زندان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سیند ته

که لاس در وړمه چې څه ناز درکړم
ته مې د لاس له سره بهیږې

که خوله در وړمه چې ځان خړوب کړم
ته مې د شونډو له خوا تښتیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دارد وژبې شاعر هارون الرشید د شعر پاره

# د افغانانو غږ روسانو ته

راشه چې دا غرونه دې د هر قدم او ښار دي
تاته د وطن د اسمان ستوري انتظار دي
مونږه هم په هسکه غږې ستا راتګ ته ناست یو
مونږه ښه پوهېږو چې سرونه دې په کار دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشه چې موږ هم همدې شېبې ته ډېر کتلي دي
تا په دې وطن کې ډېرې وينې بهولې دي
دلته به د ټول جهان مېړانه خپل سيال وګوري
دلته موږ هوډونه او لوظونه ازميلي دي

ته د ماشينونو او پولادو په پښو تلل کوې
ستا مېړانه داده چې د زهرو ورکول کوې
تاسو کې خو داسې کوم باتور هر کوره نه وينم
(چې)
کاڼي دې په لاس کې وي په ټانک باندې يرغل کوي

ته که زما سر غواړې زما هم پرې رضا ده
دومره به دې پوه کړم چې مې سر کې څه سودا ده
دا چې بربر وايم دا په دې چې مې سر لوړ دی
ټوله روسيه که ټيټې را وکړې هم وړيا ده

دا سر غوڅېدای شي خو بنده ته ټيټېدای نه شي
دا سر د هغه دی چې په توپو ټم کېدای نه شي
زموږ د کوليو لړلې نه سترګې نه سوځي
زموږ عمرونه لنډ دي يوه ورځ هم اوږدېدای نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د هجرت لومړۍ هفته

د تاکال په ارباب روډ کې یوه کمره ده
په کې اوسمه یو زه پنځه بچیان

یو شلېدلی کټکی په کوټ کې پروت دی
زه پرې ناست یمه په لاس کې مې دیوان

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دېوال نړېږي اوبه کوز رابهېږي
اوري شړکنده دبام په سر باران

د ښادرلاندې مې لور غېږ کې ویده ده
چې ساړه شي نښلوي راپورې ځان

خدای خبر دی د هغې مرغې له حاله
چې صیاد یې درېږي وربږي کړه ځاله

---

زه به هم کله منګولې راپیدا کړم
زه به هم له خونکارانو غچ اخلم

په پردو به هم د ناز پالنګ حرام کړم
خیر که اوس په مېږتون باندې څملم

اوس مې وېنې چې په خاورو ګنډل کېږم
داسې هم وه چې په سرو به دې تللم

مادمار سره یاري کړه څکه خوار شوم
که نه خدای په خپله ځاله کې ساتلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

« په بچو مې يو ښامار ده پر زور ور دی
هيڅ علاج يې نه راځي صاحب کمـــا له »

---

زبرې دارې يې دوزخ ته دروازې دي
له سروسترګو يې بهيږي لعنتـــونه

له دنيا چاپيره کوارې وارې پروت دی
اچوي په بنيادم باندې روبونه

داښامار له آمو پورې غــارې اوسي
نه پاروپرې اثر کا ندی نه دمـــونه

په ناولې خوله دغم سندرې وايي
په ببوزې يې لګي وهي اوروونه

په هرځای کې چې دده څېره ښکاره شي
پرې بهيږي دسرو وينو لوی رودونه

نه دخدای په مخکه څوک ترې بچ کيدای شي
نه مرغه ترې الوتی شي پاس هوا له

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دلویو غرو کوربته کیسه داوړو
دې کوره مسا پروشنو تو تیانو

دکابل خوږه میوه مې پېژرو نه ده
په ناولو نابللو شـــوروپانو

د سالنګ سرې او به مې نه لــوړېږي
د ماسکو په کرغېړنو تــپوسانو

د مارغه به په مارغانو جرګه کېږي
زه راغلی یم جرګې ته د مـارغانو

ټول راځي چې په وروکانو يې ولو[(1)]
دا ښامار نه ایسارېږي په شوکانو

دې وزلو تـو تکیو تکیه خدای ته
چې یې جنګ دی له مردارو کجیرانو

یا به داخوني ښامار په کانو پټ کړو یا به ورانه کړو د درستې نړۍ حاله

۱۹۸۰/۱/۱ پېښور

---

(۱) ترمیهم بحجارة من سجیل ـ مبارک آیت ته اشاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زماني پير

يو وخت د سولې وي — بل وخت د جنګ شي
يو وخت د مستۍ خندا — بل وخت د ننګ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله د ګلو محشر
سخ د بورا وي
کله د شمعو شغلې
وار د پتنګ شي

چې د رنه درومې اشنا
د شپیلۍ نول وي
چې د تا خواله درځي
د رباب ترنګ شي

چې زړه ځوریږي سترګې
شي دانارو دانې
چې زړه نشه وي سترګې
پیالې د بنګ شي

یوې زخمي مرغۍ ته
کله زړه وځوریږي
کله د مرګ چپاو ته
سخت لکه سنګ شي

۱۹۸۱

پښتونور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنګ او ننګ

هغه باغچه دې تالا والا شي
چې پرې اتڼ د سوربورا نه وي
هغه ژوندون دې د مرګ مسلمه شي
چې واک د بل وي او د تا نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وطن ښکلو ښکلو ږلمیانو
نن مو درشل ته دښمن راغلی
زموږ د خویندو پاکې لمن ته
د شهوت لاس وړي دغه ناولی

یو پلو سوله ده، غلامي ده
بل پلو جنګ دی، ورسره ننګ دی
پام کړه د سولې چې نوم وانه خلې
په موږ راغلی آیت د جنګ دی

۱۹۸۲
ډنمارک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درقد مه هیروئ!

دانظم په ۱۹۶۳ع کې لیکل شوی و. هغه وخت کمونیستان
په کابل کې پر مطبوعاتو مسلط وو. کله چې دا نظم په «سهوه»
کې په «ژوندون» کې خپور شو، د سلیمان لایق تبصره دا وه:
" له دغه نظم نه داسې انګېرل کېږي چې ګوندې شوروي اتحاد به
د نورو هېوادو د خاورې لاندې کولو ته اینبسي وي.
حال دا چې د امریکا پر خلاف، شوروي اتحاد تراوسه د چا یوه
لوېشت خاوره هم نه ده اشغال کړې "
درقد د پنج (آمو) په سیند کې پروت یو ټاپو دی او
دا آزاد شعر هغا غلته د سنځلو د ځنګله په مینځ کې لیکل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په قبر به لاله زرغونه وي
خوزما داخبره مه هېروئ
چې هلته لرې د سیندونو غېږ کې
یو تور ځنګل دی داغرنو ونو
هغه ځنګل دافغانانو مال دی
چې یې اوبه درنه رالاندې نه کړي

د "پنج" او بوکې لاهو شوی ځنګل
ما یې خونکارې ژامې ولیدلې
چې پرانستلې دي درقد له پاره
دا پنځه سرې نساماره پېژنم

لا مازدیګر وي چې په خلکو شپه شي
شپانه په بیره رمې کورته بیا یې
هرڅوک له کمو ځنګلو لار چپوي
دا شين ځنګل په ځناورو سپارې

د تورې شپې کېږدۍ چې وغوړېږي
تورې بلاوې په درقد خورې شي
نهنګان ورو ورو په ساحل ورخېژي
زمري راوځي د ځنګله له تیارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سور لنډیو آوازونه راځي
خوسپي له ویرې خواب نه ورکوي
توره تیاره کې دهربوټي له شا
دځنا ورستوګې رڼې ځلیږي

له هرې ونې نه شپېبه په شپېبه
دکونګک وېرجنه سانده غوږ ته راشي
له هرې خوا نه خونړې سیندونه
لکه بارشوي اوښان وېرېږي

ما هندوکش په سر منزلونه کړي
شپې مې په ښمځو کې خوبونه کړیا
خو د درقد فضا ځه بل شان ده
زه یې په ځان باندې شکمن غوندې کړم

لکه اشنا چې زه هیر کړې یمه
یو له نظره غورځېدلی تمپو
دحوادثو په منګولو کې ګیر
له وطنوالو نه په ځنګ پاتې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په قبر به غاټول شين وي
خو زما دا خبره مه هېروئ
چې هلته لېږئ د سيند ونو غېږ کې
يو تور ځنګل دی دا غزنو ونو
هغه ځنګل دافغانانو مال دی
زما د قبر په غاټول موقسم
چې يې او به درنه رالاندې نه کړې

۱۹۶۳
د درقد تاپو - تخار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پیړۍ چلنج

بیا وشول په مونږ باندې غرونه د پیړۍ
بیا زلمو را واخیستل ټوپک او ګردنۍ

بیا نجونې د لوړو غرونو څوکې څارې
بیا کوز راورېږي په لمن لمن ږلۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خپلواکي

اسمان په ستورو ښکلی ښکارېږي
شینکی اسمان وي او رانه ستوري
شولې چې توري شي ګلالۍ شي
چې یې کښېږدي شمال ته نسوري
معشوقه هله د زړه کترې خوري
چې ته شرمېږې، دا درته ګوري

هسې بېدرېغه وبله خوند کا
چې یو وطن وي بل خپلواکي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وطن په هرڅه باندې کشمير دی
خو زمونږ خلکو ور لېږي زړه ځي
بورې شوې مېندې، کونډې شوې ښځې
خو ځوانان جنګ ته لا په ډاله ځي
که په ښېښو شل وي، ځي په خاپوړو
که لارې نه وي، په غره راغه ځي

هسې بېدرېغه وبله خوند کا
چې یو وطن وي بل خپلواکي وي

هغه واده دې په وير بدل شي
چې په کې غربنده نڅا نه وي
هغه ژوندون دې د مرګ مېلمه شي
چې واک د بل وي او د تا نه وي
هغه باغچه دې تالا ترغمې شي
چې په کې شور زوږ د بورا نه وي

هسې بېدرېغه وبله خوند کا
چې یو وطن وي بل خپلواکي وي

۱۹۸۲

ډنمارک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما محبوبا

نیمه شپه کې راغله بربنډې سترګې سره لاسونه
غوړې توري څپې لکه سوی درمندونه

ټمبک یې په تیارې کې پرکېده لکه بریښنا
شرنګ یې د پاولو لکه کړچنده ټانکونه

مستې روڼې سترګې یې د روس په شان خونکارې
وروځې یې چړې وې راکږې په یاغي زړونه

۱۹۸۲

ډنمارک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بدخشان مهاجر

کوکچه بهېږي غاړې تر غـــاړې
دکوچ اوښانو، کږې کږې غاړې
له اېلبندونو، کوز راشیوه شـــول
هی کړې لاړې، هی کړې لاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچانی ولېښن خو زړه یې پرېښود
د زړګي غوټه یې خلاصه نه شوه
ځان ته یې ډېرې تسلۍ ورکړې
خو یې یوه خوا ترلاسه نه شوه

دا د سکروټو دلې اورونه
د چټو پېغلو سپین مړوندونه
په ښو ځوانانو دې خدای پېرزو کړي
مونږ خوی ورک کړو له وطنونه

۱۹۷۹
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شپې تنهايي

بچيان ويده ښه دی  برقونه مړه ښه دي
له خپل زړګی سره مې  دزړه خواله ښه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دژوند یادونه دی چې په تموپو راځي
ورځ لا یوځه سود کې وي غم مې په شپو راځي

دتوروزلفو داستان رانه د تورښامارشي
دخیالي ستړکو بیان رانه دسروا نګارشي

قلم یاغي شي رانه
زما خبر نه لیکي
هرڅو پرې بیره کوم
خو دی یې ژر نه لیکي

۱۹۸۸ ع
ویرجینیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دمجروح یاد

اوښکې د ښېښوخوکوته راغلې لږ بانه غواړي
رژنده ګلاب ته وږمه هم د سیلۍ خور شي
ما په ماشومتوب کې هم له شګو سره لوبې کړې
نن کورونه جوړکړې خو سبا ته بیا نسکور شي

ویرجینیا ۱۹۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# همزولي شاعر ته

ته د دنيا د کاروانونو جرس  د تمدن د قافلې زنځير
ستا له تېزبينو سترګو ځان ساتي  د هندوکش د آسمانونو کجير
ستا د وزر لاندې خوندي د بشر  لکه تکيه وي مريدان چې په پير
هو ته شاعرې قلم سم چلوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې یې د چا د لاس رانجه خوړلي          دهغه غبن د تا له ستوني راځي
چې په کړاو په یې کسې کې ومري          دا ستا قلم یې ځنازې پسې ځي
چې یې برچه په سینه ننوځیا          ستا له قلمه ورته آخ وځي
هو ته شاعر یې قلم سم چلوه

ته سیلاب نو ته ویالې جوړوې          ته غور ځنګونو ته سامان ورکوې
یوه دنیا درته ذره ښکاري          په یوې اوښکې پسې ځان ورکوې
چې یې اظهار له چا نه نه وي پوره          هغه احساس ته ته بیان ورکوې
هو ته شاعر یې قلم سم چلوه

ستا له قلم نه دنیاګۍ جوړه          چا ته ښامار چا ته د لاس امسا
چا ته ډیوه چا ته په زړه کې چاړه          چا ته خوږه کیسه د تللي اشنا
د چا د ټک زړه د تنها کو دارو          په چا دوزخ نه راالوېدلې بلا
هو ته شاعر یې قلم سم چلوه

په توره شپه کې د سبا زیرې          شوګیره خلک یې له تا غواړي
ټوله دنیا چې ورته سور اور شي          د زمانې یتیم په تا ژاړي
چې ځناور به نړیوال ورا شي          ای قلم واله اول تا داړي
هو ته شاعر یې قلم سم چلوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دژوند د ذوق پاکه هینداره ته یې ته چې خندا کوې دنیا خاندي
ته نو چې خاندې ریښتیني خاندهٔ که نه تاریخ به بیا په تا خاندي
د تا د هرې اوښکه کې په اثر یو زر ګلونه به سبا خاندي
هو ته شاعر یې قلم سم چلوه

د نګې ماڼې چې تا خوشحاله نه کړي په رژولو یې قلم چلوه
چې لاتر اوسه ایسار شوې نه وي ته په مستۍ ور باندې دم چلوه
چې بشري لوړې په محکه وهي هسې بامونو باندې بم چلوه

۱۹۵۸
خان آباد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له قلم سره خواله

له قلم سره مې بيا ګوتې خوږې شوې
په ګونګې خوله مې بيا جوړې ترانې شوې

په مړژواندي تن کې بيا سا راغورځېږي
بيا راياد دې لس ګلني خاطرې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا مې خلاصه کړله ژوند ته نوې لاره
بیا مې څانګو دارمان کې پاڼې شنې شوې

وچو مراندو د زړګي کې وینه راغله
دا زړې وچې ویالې وروورولمدې شوې

عقل ویلې چې قصه دې لاړه راغله
د ماجرې چې چېرته بنې شوې هلته شپې شوې

سره هاتي چې په شنه بڼ یوځل پښې ایښې
د هغه ګلبڼ ریښې ترمې تسمې شوې

عقل داویلې خوزړه په بله سر و
د دې دوه ترمینځ مې خوږینې حوصلې شوې

عقل پښې ایستې خوزړه لکه دغر و
زړه مستې کړه چې په عقل زلزلې شوې

که د روس هاتي هرلورې ته یرغل وړه
سمه غرکه د کړو منارې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو چې ګوري خړه کې افغان لا شته دی
د زړګي وينې يې سرې نه شوې لا سرې شوې

که وطن مو شولو ړنګ له بوړو ورارو
په غليم مو هم د زړه سخې پسخې شوې

که يو نيم مليون زموږ نه په کې لاړل
د دښمن په خوله کې هم خاورې ايرې شوې

چې په شوبلو په ټانکونو سپاره راغلل
په ستنه يې اوس روانې قافلې شوې

سترګې سرې، مرکوندې ماتې، جنګ بايللی
نوم برباد، هدف تباه، خاورې په خولې شوې

واشنګټن
۱۹۸۹ ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پردیتوب

اشنا د ځنګو غرونو کجیر غواړي
زما وزر په دنګو ماڼو سوزي
زه هسې مکرو ریان کې ورته میشت یم
په دې انګړ کې بل مرغه الوزي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه دا د گودر غاړې ته روانه

نه زه هسکه شمله بوړې په غاړه

نه زه لکه باښه شنها مې خېژي

نه دا جگه الوزي لکه خراړه

موږ دواړه په دې ستېج کې نابلد یو

موږ هېڅ یو پخپل نقش نه پوهېږو

لیکوال راته پرده دورام لیکلې

او موږ لکه کالبوت لږ وبرکېږو

موږ دواړه پخپل نقش نه پوهېږو

د دوو کسو اتڼ دی په میره کې

د مړو هډوکې یو په بل لگېږي

بروې راته خاندي هدیره کې

۱۹۷۶

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عبدالحق "همایون" مجاهد

سره دې ولې دې پر ښېښوه چې وطن در باندې یاغي کړي
جار دې تر ببرې ږیرې سل ځله شپونکی شي

ناوې د وطن دې په تا فخر کړي لالیه
مورې بوره مه کړې څوک چې تا غوندې زمری شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تو له جبارخیل دي اوس پکړۍ جګې شملې وړي
دوی کې همایون چې لکه ستوری ځلیدی شي

نن په توره بوږ په روسانو کړي مور بوره
بله ورځ پغمان کې د پرچم میلمه مړکی شي

ټول وجود پرهار دی په ګولیو لګیدلی
یو ځای يې روغ نه دي چې داځنګه په لار تلی شي؟

څومره چې د توپو او بمونو محشر جوړ وي
هومره همایون ورته بیباکه توریالی شي

مه مرې مجاهده د دې ځګو غروکو ربته
ستا له سرومنګولو دښمن کله خلاصیدی شي

ستا په برکت خلقي پرچم یو له بل وژني
روس ستا له هیبته سروهي روغ لیونی شي

توره او میړانه او ښکلا په تا ده ختمه
دا زما قلم دې هم د تا د مخ لوګی شي

پېښور ۱۹۸۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شهید میوندوال په مړینه

# جفا

پرېږده چې راوړېږي دا جګ غر
دا د ګنهګارو کلی لاندې کړي
دا د ځان وژونکو او دغلو ډله
سل خرواره کاڼي چې ورباندې کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده ورته ويل چې ګناه مه کوئ
دوی په بې دردۍ له کلي وشاړه
چا يې د پګړۍ زندۍ په غاړه کړه
چا سپي ورشکارل چې تول يې وداړه

وينې يې په سنګلو مخ ورماتې وې
کلي نه روان وشاته يې نه کتل
ده ويل چې دا به پښتانه نه وي
هاچې پښتانه وو څوک يې نه رټل

پونديا يې سپينږيرو ورخيرولې وې
دی په دې اميد دلته راغلی و
لاره کې يې لوږې تيرې کړې وې
دی يو لوی پښتون و او سبا غلی و

۱۹۷۵
کابل

د مور د مړینې د خبر په اورېدو:

# د مور یاد

د ګلو به محشر وو خو که ورېځې لږ سخې وای
که ستا د هتیکرۍ پېښکه وای زما به هم مستي وای
د تا د لاس سا به وای چې بې تبې مې خوړلای
د تا د مینې اور وای مورې زه ورکې ستي وای
ماښام مې د کټوې نه د شودو سوکې څښلای
سهار مې د مېتې په ترشکن کوچو سبناري وای
دردونه کړاوونه مې کړي ورځې کالای
خوشیه ستا په زنګون مې سر کېښوی د لاسا یې وای

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پوهه نه قلم وای ، نه مکتب نه لیک اولوست وای
تالاس په سر راښکلی ، ما ځپل زړه درته سکښتلای
سره دژمي شپه وای ، د نغري خوږلن ته ناست وای
په ورو ورو په مزو دې افسانې راته کولای
په ونو په اغزو مې مخ او پښې زخمي زخمي وای
د تا په جادوکړو کوتو ټولې رغېدلای
دیوان وای ، ښاپېرۍ وای ، او ملوک وای او بدرۍ وای
د تا د ښکلي غږ نه د اسرارو زون راتللای

یه موري زړې موري ! ما خو ونه لیدې موري
ته لاړې درنه پاتې شو بېکس ستا نازولی
یه موري د نیا او روه زه او ته پرې خبر نه وو
اوس ګوځم هسکېږلی ، کړېدلی او ترټلی

یه موري په زړه پورې ، یه درنې پښتنې موري !
د تا د جُنازې کټ نورو یوړو هدیرې ته
خبر شوم چې بمونو موکوډل کړه درې ورې
او تا پناه وروړې وه د بل کلي دېرې ته
خبر شوم چې زما فوتو دې هر چا ته ښودله
زوي ګی مې را روان دی خلکه دې بلې پېرې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکلي خلکو ویلي چې بوډۍ لیونۍ شوې
ځما ته تورتم وایې، سپین سبا تورې تیارې ته

چې سا دې ورکوله ځما نوم دې یادولو
تا وې چې آخري دیدن دزوۍ شو را نه پاتې
ادې خو مجبورې وه، بې دردي وه بېواکي وه
دې سره ښامار په ډېروکړې ښایسته مېنې میراتې
زه لاړم چې د سره ښامار علاج چېرته پیدا کړم
زه لاړم چې په ټوله دنیا وکړم ننواتې
دنیا ته ګرېوان وشلوم، بېلګی ورته ښکاره کړم
دا داړې د ښامار دي نه شکرې نه نباتې
که زه یې درنه ګوټ کړم او ځما سره یو نه شوې
قسم په ذوالجلال دی که به یو شي ورنه پاتې
یه خلکه سره ښامارته خره کی افغان پیدا دی
تاریخ کې دي راغلي چې به روس خوري دلته ماتې

ادې! یو نیم ملیون مې په وطن کې شهیدان دي
په هر کاله کې ویر دی او په هر کلي کې ساندې
ملیون شپېږ شلی نه دي چې په کوتو دې شمېرلی
یو نیم ملیون لس لکه دي پنځه لکه پرې باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو نیم ملیون غاټول که د بکوا په دښته شنه شي
دا ډاګ به سور چکن شي زرغونه ړنګا به کاندي

ماوې دتا په قبر به ډیوې روښانومه
ماوې چې دا ببر سر به په شناختې درته ږدمه
ماوې چې ستا کېن به په تودو اوښکو پرېولمه
ماوې چې دجمعې شپې ستا مزار کې تېرومه
ماوې ستا دجامو سره د زړه خواله کومه
چې تا قدم پرې ایښی وې هغه ځای ښکلومه
خو قسمت بله راوکړه !
په یو سر د دنیا کې ته دخاورو مېلمنه شوې
او زه د دنیا بل سر کې دعا درته کومه

۱۹۸۲ ع
ډنمارک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مهاجر خوب

خوب وینم عالمه که یې څوک راکې ما نه
پروت یم سر مې ایښی دخپل یار په زنګانه

سر په بالښت ایښی تش کالبوت په واشنګټن کې و
روح مې په مزو مزو روان په خپل وطن کې و
واورې د سپین غره وې چې په تنده مې سوېلې
خاورې د وطن وې چې په سر مې بادولې
مرې اوښکې روانې وې په مخ دانه دانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکې ما نه

ډنډ دشمالي ته شوم انګور میزان وهلي
تاک شینکي زېړ ځکي شو تالان پرخو پرېوللي
کوز تګاو ته لاړم داغوزو لوېږي ونې
پاس وختم غره ته دځېږيو پاڼې پېلنې
خلک وو، بازار و، شور ماشور وو، تله راتله وو
مینې وې، شپانه وو، هیاهوی و، سرا وشنه وو
نه دویرو نښه، نه دغم وه نښانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکي مانه

بیا مې شو ګذر لکه ګودبت په لوی سالنګ
ویرې مې وزرې وې په څوکه په کړنګ
واورې سپینې سپینې ځلېدې لکه سپین زر
کوز رمې اوبه وې، پرېوتلې لر و بر
زرکو او بلبلو یې په ترو کې سندرې کړې
مستې زړې هوایې اندېښنې له زړه لرې کړې
مورکې ځلېدلې لکه زلفې په شانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکي مانه

خوب وینم: باغچه وې توله شنه په ښنا رونو
مینځ کې یې صفه وې، توله پټه په تغرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا کې یې ویاله کې د رنړا وبو ښتوپونه وی
زه یمه یاران وی، چمنونه، مجلسونه وی
بره خوا پښتو کې شولي ځنې باد ته اچوی
خپل وی د چنچنو، ټیټې الوزی اتڼ کوی
ځمکه او اسمان په ګډه وايي تــــرانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکې مــانه

خوب مې په وطن کې دی، خوړدن مې په وطن کې دی
خوب کې چې هم مرمه، ځنکدن مې په وطن کې دی
قبر په وطن کې، ځنازه مې په وطن کېــــ ده
تن مې په وطن کې دی، کپن مې په وطن دی
ما ته تابوت مه جوړوئ، ما ته ګلان مه راوړئ
روح مې په وطن کې دی او تن مې په وطن کې دی
ګوندې یو شپونکی وطن قبول کړي نــذرانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکې مــانه

۱۹۸۵
واشنګټن

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځانه

ستا اوږده اوږده وزرونه، هندوکش له څوکو جګ دي
لنډ وي اوږده مزلونه، چېرته ځې کله رسېږې

ستا اوږده مشوکه ډوبه، نن آموکې بیا سبا ته
د سپین غره د سر ډنډ وکې مسته مخچولېږې

(c) ketabton.com: The Digital Library

الوتوکې راڼکي زانګي څه ګینډي وهي اسمان ته
چې سیلۍ څومره سختیږي ته په شوق ورته ننځیږې

د نیلي اسمانو پیغلې ، ولې دومره جګه ګرځې
راته ښکاري پښتنه یې له زلمیانو نه شرمیږې

تور اوږه د پسرلي کې چې باران نم نم وریږي
ته زموږ د کلا شاته ، توره شپه کې راکوزیږې

زه یې اورم چې ته بولې ، ها خوږې خوږې بدلې
زه یې ګورم چې ته خاندې او بیا ورانه ورانه کیږې

چې ته بیا وزرونه د ډکې کاشکې ما درسره بوځې
بې وزره درته څوریږي زړه ګڼه ! ته نه پوهیږې

کاشکې ما وزر لرلای چې سهار درسره لاړ وای
څه ښه خوند کاچې آموته ، هندوکش نه ورښوییږې

څه د تالندې مترو کې ، د آسمان مخ ورشین کړې
چې د اوښکې دانه ګڼه شوې او کرار کرار بهیږې

کابل ۱۹۶۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له خپل ځان سره راز او نیاز

شپه چې پخه شي ګاونډي ویده شي
چې د موټرو آواز و دریږي
زه د خپل کټ ته مخ ګونډې ووهم
اوښکې مې مرۍ مرۍ په بار خوښوینږي
شونډې مې ښورې خو اواز نه لري
او دا شکرونه مې له زړه نه وځي
چې یې زما روح ته له تا شکریه
چې لا تر اوسه غاړه هسکه ساتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د امید په باغ خزان کړ شي
چې په شنو پاڼو زېړې ولګېږي
چې د مالیار مخ په ګردو پټ شي
چې د بورا وزرې وسکڼېږي
زه لکه سروه غاړه جګه ساتم
د حوادثو د کوتکو لاندې
مې سر مات شوی خو کوږ شوی نه دی
د اوږدو شپو په شومه دم کې وایم:
چې په زما روحه له تا شکریه
چې لا تراوسه غاړه هسکه ساتې

۱۹۶۰
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ARIC
B
3.532
SHP
982

# DEW DROP ON A SAGEBRUSH

(Parkha Pa Tarkha)

Poems

by

*Saduddin Shpoon*

Writers Union of Free Afghanistan

Series No. 52

*1990*

IRC Printing Press

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library